# د صدیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ ذهانت

04-February-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د صديقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ذهانت [يعني د ذِهن تيزوالے]

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ** (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** جُمات ته تلل راتلل د ثواب کار دے، چې کله جُمات ته د حاضريدلو سعادت حاصل کړئ نو په ياد سره د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه چې تر څو پورې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. دا شرعي مسئله ياده ساتئ چي! په جُمات کښې خوراک څښاک، اُوده کيدل، پيشمنے، روژه ماتے کول، اګر که دَم کړي اُوبه وغيره وي څښل جائز نه دي، خو که د اِعتِکاف نِيَّت مو کړے وو نو ضِمناً به دا څيزونه هُم جائز شي. ياده ساتئ! د اِعتِکاف نِيَّت صرف خوراك څښاك يا اُوده کيدلو د پاره کول نه دي پکار بلکه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بيا چې څه غواړي کولے شي (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي) که کيدے شي نو د اِعتِکاف د نِيَّت کولو نه پس دولس ځله دُرُود شريف اووائې يا بل يو نيک کار اوکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه

ثواب به مو زیات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراک څښاک او اُوده کیدل وغیره هُم جائز شي.

## دُرُود شریف ګناهونه ختموي

خلیفهٔ اَوَّل، **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن** حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي: اوبه چې څومره زر اور مړ کوي، په خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرود شریف لوستل د دې نه هم زیاته تیزئ سره ګناهونه ورانوي او په نبـي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې سلام لیږل د غلام آزادولو نه افضل دي.[1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[2]

یاد ساتئ! په نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو:

نِیَّت اوکړئ چې، نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ✿ چې څومره

---

[1] ...تاریخِ بغداد، جلد:7، صفحه:172۔

[2] ....معجم کبیر سهل بِن سعد الساعدی...الخ، [illegible]، حدیث [illegible]

کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې ] کښينم ❀ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نکاتو نوټ کولو هم نيت اوکړئ.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "**د صديقِ اکبر** رَضِیَ اللهُ عَنْه **ذهانت**". په دې بيان کښې به اورو ❀ د مسلمانانو اول خليفه، عاشقِ رسول، عاشقِ اکبر **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن** حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْه ډيره اوچته مرتبه لرونکې هستي ده، ❀ **الله** پاك هغوئي ته ډير لوئي اوصاف او کمالات عطا کړې وو، ❀ د هغوئي يو اعلٰى وصف: ذهانت [يعني د ذِهن تيزوالے] دے. ❀ **اِنْ شَآءَ اللّٰه** نن به مونږه د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ذهانت حکايتونه اورو او د هغې نه به د درس سعادت حاصلولو ❀ په آخره کښې به د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په بَرَکت په خپل ځان کښې د ذهانت دا وصف د پيدا کولو طريقے هم زده کوو. **اِنْ شَآءَ اللّٰه**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د صديقِ اکبر د مَحبَّت په برکت کلمه ورنصيب شوه

د **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص خادِم حضرت اَنَس بِن مالك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، فرمائي: يوه ورځ يو يهودي د حضرت ابوبکر صِدِّيقِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کښې حاضر شو او اوئې وئيل: هغه **الله** پاك چې حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام ئې **کَلِيْم** جوړ کړے دے، په هغه ربښتيني خُدائے مې دِ قَسَم وي! **اِنِّىْ لَاُحِبُّکَ** اے ابوبکر (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) زه ستاسو سره

مَحبَّت کووم.

حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ چې د يهودي دا خبره واوريدله نو مَا شَآءَ اللّٰه! ذهانت [هوښياري] ئې اوګورئ! زمونږ په مخکښې که څوك زمونږه صفت اوکړي، زمونږ سره خپل عقيدت ښکاره کړي، زمونږه لاس ښکل کړي نو مونږه په تَکَبُّر کښې اخته شو، ځان ډير غټ ګنړل شروع کړو، حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په غرور او تَکَبُّر کښې رانغلو، خپل ځان ئې ښه او عِزَّت دار اُو نه ګنړلو، چې واه واه ، زما انداز، زما کردار د خلقو په زړونو څومره اثر کړے دے وغيره، د شيطان په دوکه کښې رانغلو، او د علم شان ئې اوګورئ! ولې چې يهودي د **الله** پاك قَسَم خوړلے وو نو حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د الله پاك د نوم ادب اوکړو او يهودي ته ئې دروغژن هم اُونه وئيلو، څه ئې اوکړل؟ بس سر ئې ښکته کړو، خو ولې ئې ښکته کړو؟ حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: **تَهَاوُنًا بِالۡيَهُوۡدِ** [يعني] د يهودي نظر انداز کولو او خړلو د پاره، يعني هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هغه [يهودي] ته دا احساس ورکول غواړي چې ته زما سره د محبت دعوٰی کوے خو زما د آقا مکّی مَدَنی مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نه محبت کوے او نه د هغوئي کلمه وائې چې مسلمان شې؟ ياد لرئ! د حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دا عقيده ده چې څوك زما د آقا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، هغه زما دے، څوك چې د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دے، زما هم نه دے.

اپنا عزیز وہ ہے جسے تو عزیز ہے | ہم کو ہے وہ پسند، جسے آئے تُو پسند (1)

---

1...ذوقِ نعت، صفحہ:126-

**په ما هغه دے ګران چې ئې تاسو په چا ګران　　　هغه زمونږه خوښ دے چې ئې تاسو د چا خوښ**

نو حضرتِ ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ [د **الله** و رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت په وجه] په دې موقع تَکَبُّر اونکړو بلکه سر ئې ښکته کړو، نو هلته جبریلِ اَمین عَلَیْهِ السَّلام وحي راوړه او د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **الله** پاك تاسو ته سلام رالیږلے دے او حکم ئې کړے دے: چې هغه یهودي کوم چې د حضرت ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره **محبت** کوي، هغه را اُوبلئ او زیرے ورکړئ چې د هغه په زړه کښې د حضرت ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ **محبت** دے، نو **الله** پاک د دغې **محبت** په برکت هغه ته د جَهَنَّم د دوو مصیبتونو نه خلاصے ورکوي: (1) نه به د هغه په ښپو کښې زنځیرونه اچولے کیږي، (2) او نه به ئې په څټ کښې زنځیر اچولے کیږي.

خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فوراً هغه یهودي را اوبللو او د **الله** پاك پیغام ئې ورته واورولو، یهودي چې دا پیغام واوریدو نو زړه ئې روښانه شو، په ډیره خوشحالئ ئې آسمان طرف ته اوکتل او دا کلمه ئې اولوستله: **اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّكَ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَقّاً** زه ګواهي ورکووم چې د **الله** نه سوا بل څوك د عبادت لائق نشته او تاسو **مُحَمَّد** (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د **الله** رښتینے رسول ئې.

**الله الله!** لږ ساعت مخکښې کوم کس چې یهودي وو، اوس د هغه په ژوند کښې انقلاب راغلو، هغه د خپل نِیَّت اظهار اوکړو چې خپل را روان ژوند به څنګه تیروم؟، هغه اُووئیل: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه ذات مې دِ قَسَم وي چا چې تاسو رښتینے رسول رالیږلے ئې، زه به په خپل ژوند کښې د ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ **محبت** په خپل

زړه کښې کله هُم کم نه کړم بلکه نور به ئې زياتووم.

په دې خبره غور اوکړئ! اوس هغه مسلمان شوے دے او د رسولُ **الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخکښې په خپل زړه کښې د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د **محبت** ساتلو او هغوئي سره د نور **مَحَبَّت** زياتولو قَسَم خوري، خو په دې باندې نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **هغه** اُونه رټلو، او دا ئې ورته اُو نه فرمائيل چې اوس خو ته مسلمان ئې، اوس صرف د **الله** پاک سره **محبت** کوه! د قرآن سره **محبت** کوه! اوس دِ زما کَلِمَه وئيلي ده، اوس د ابوبکر **مَحَبَّت** نه بلکه زما **مَحَبَّت** ضروري دے، داسې ئې اونه کړل بلکه اوئې فرمائيل: **هَنِيئًا هَنِيئًا** مبارك شه! مبارك شه! يعنې تا ته د ابوبکر د **محبت** پيژندګلو اوشوه، د دې اَهَمِّيَّت تا ته معلوم شو، د دې په برکت تا ته اِيمان نصيب شو، مبارك شه.[1]

**اے عاشقانِ رسول!** اندازه اوکړئ! د حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **محبت** څنګه بابرکته دے! د دې **محبت** په برکت يو يهودي ته کَلِمَه نصيب شوه. مونږ له هم پکار دي چې د حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **محبت** په زړه کښې نور هُم زيات کړو، دا **محبت** اِيماني **محبت** دے او د هر مسلمان د پاره ضروري دے. خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **حُبُّ اَبِيْ بَكْرٍ وَشُكْرُهٗ وَاجِبٌ عَلٰى اُمَّتِيْ** د ابوبکر (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) سره **محبت** کول او د هغوئي شکريه ادا کول زما په اُمَّت باندې واجب دي.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **محبت** په زړه کښې زيات

---

[1] …رِيَاضُ النَّضْرَه، حصّه اوّل، صفحه:178، حديث:475۔

[2] …کنزالعُمّال، کتابُ الفضائل، باب ذکر صحابه، حصّه:11، جلد:6، صفحه:252، حديث:32590۔

کړئ! د هغوئي سیرت اولولئ، د هغوئي کردار د خپل ژوند حصه اوګرځوئ. ❁ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت برکت والا دے، ❁ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت د الله پاك د راضي کولو ذریعه ده، ❁ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت **الله** پاک ته نزدے کول کوي. ❁ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت اِیمان پخوي، ❁ د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ محبت عشقِ رسول زیاتوي، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول د فرښتو طریقه ده، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول د صحابۀ کرامو طریقه ده، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول د اولیاؤ او عُلماؤ طریقه ده، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول د نیکو ترغیب ورکوي او د ګناهونو نه بچ کول کوي، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول د جَهَنَّم نه بچ کول کوي، ❁ صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کول جَنَّت ته داخلول کوي.

## جَنَّتِ عدن ته به څوك داخلیږي؟

د حضرت عبدُالله بِن عُمر نه روایت دے چې، **خاتِمُ النَّبِیّیِن**، ختمُ المُرسلین فرمائیلي دي: په کومه شپه چې ابوبکر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پیدا شو، په هغه شپه **الله** پاك **جَنَّتِ عَدْن** ته مخاطب شو او اوئې فرمائیل: زما دِ په خپل عِزَّت او جلال قَسَم وي! زه به تا ته صرف هغه [مسلمانان] داخلووم څوك چې د دې ماشوم (حضرت ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) سره محبت کوي.[1] الله پاك دِ مونږ ته د خلیفۀ اوَّل حضرت ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډیر محبت رانصیب کړي، راځئ چې دُعا کوو:

---

[1] ...میزانُ الاِعْتِدَال، جلد:1، صفحه:260، حدیث:466۔

الٰہی! رحم فرما، خادمِ صدیقِ اکبر ہوں | تری رَحمت کے صدقے، واسطہ صدیقِ اکبر کا (1)

اِلٰهي رحم اوکړه، خادمِ يم د صِدِّيق اکبر ستا د رحمت په خاطر په وسيله د صِدِّيق اکبر

## د صِدِّيق اکبر مختصر تعارُف

د خليفهٔ اوَّل، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نوم مبارك: عبدُالله، کُنيت ابوبکر او لقب: صِدِّيق و عَتِيق دے. د صِدِّيق معنٰی ده: ډير زيات رښتيا ويوونکے. هغوئ رَضِیَ اللہُ عَنْہ به هميشه رښتيا وئيل. د عتيق معنٰی ده: آزاد. خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہ ته دا زيرے ورکړو : **اَنْتَ عَتِيْقٌ مِّنَ النَّار** يعني اے ابوبکر! ته د جَهَنَّم نه آزاد ئې.[2]

د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تَعَلُّق د قبيلهٔ قريش سره دے، په وومه پيړۍ کښې د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شجرهٔ نسب د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خاندان د شجرے سره يو ځائے کيږي. په آزادو سړو کښې حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ټولو نه وړومبے اسلام قبول کړے وو. **ماشَآءَالله** د هغوئي ډير کمالات و فضائل دي. هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام نه پس په ټولو انسانانو کښې د ټولو نه افضل و اعلٰی دے. حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ټولو غزاواتو کښې شريك شوے دے، د صُلح او جنګ په ټولو فيصلو کښې د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وزير وو او د ژوند په هر ډګر کښې ئې د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مرسته کړي ده او د قربانۍ حق ئې ادا کړے دے. دوه کاله ووه

---

[1] ...ذوقِ نعت، صفحہ: 76۔

[2] ...معجمِ کبير، جلد: 1، صفحه: 20، حديث: 9۔

میاشے ئې خلافت کړے دے. حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په **22 جُمادَی الۡاُخۡرٰی 13** هجري وفات شوے وو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د شین ګنبد لاندې د خپل یارِ غار، خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ښکلي مبارك کښې آرام فرما دے.[1]

## د وړوکوالي ذهانت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَمِیۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡن**، حضرت ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د وړوکوالي نه ډېر ذهین او عقل مند وو. د هغوئي عمر څلور کاله وو، نبـي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لا د نَبُوَّت اعلان نه وو فرمائیلے، په دُنیا کښې د کفر او شِرك تِیارے خوَرے وې، د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ والد ابوقَحافه چې هُغه وخت د کفر په تِیارو کښې ورك وو، یوه ورځ هغوئي حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خپلې عبادت خانے ته بوتلو او د کاڼړو نه جوړ د دروغو خدایانو مخے ته ئې اودرولو، او ورته اوئې وئیل: دا ستا لوئ او اوچت خدایان دي! دوئي ته سجده اوکړه! (اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰه! اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰه!) ابو قحافه دا خبرې اوکړې او یو طرف ته لاړو او په څه کار کښې مصروفه شو د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مخے ته د کاڼړو بُتان دي، هغوئي لږ ور مخکښې شو او یو بُت ته نِزدې شو او اوئې فرمائیل: **اِنِّیۡ جَآئِعٌ فَاَطۡعِمۡنِیۡ** زه اوږے یم په ما طعام اوخوروه! هغه بے ساه کاڼړے وو، څه ئې نه شو وئیلے. صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دویم سوال اوکړو: **اِنِّیۡ عَارٍ فَاکۡسِنِیۡ** زما جامے نشته ما له جامے راکړه! کاڼړي څه وئیلے شو؟ نو صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په جلال کښې راغے، یو کاڼړے ئې راواغستو او اوئې فرمائیل: زه تا په کاڼړي ولم، که ته خدائے ئې نو ځان بچ کړه!

---

[1]...اِکۡمَال، صفحه:12، تاریخ الۡخُلَفاء، صفحه:1918۔

اَللّٰہُ اَکۡبَرۡ! د ځلورو کالو د ماشوم په لاسو کښې به څومره طاقت وي، هغه به بُت په کانړي څومره په زوره اُوولي؟ خو د صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د متو طاقت اوګورئ! چې بُت ئې په کانړي ويشتلو نو **فَخَرَّ لِوَجْھِہٖ** نو هغه بُت پړ مخ په زمکه راپرېوتو او ټُکړے ټُکړے شو. ابو قحافه د بُت د لويدلو آواز واوريدو او په منډه راغے، د خپل باطل خدائے دا حال ئې چې اوليدلو نو په غُصّه کښې ئې حضرت ابوبکر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ يوه څپېړه اووهلو او د لاسه ئې اونيولو او کور ته ئې چې بوتلو نو د هغوئي مور ته ئې اووئيل: اوګوره! نن ستا ګران ځوئ داسې کار اوکړو. مور ئې چې ټوله واقعه واوريدله نو اوئې وئيل: زما ځوئ پرېږده! د ده هيڅ غلطي نه ده، چې کله دا پيدا شو نو د غيب نه يو غږ شوے وو: **يَآ اَمَةَ اللّٰهِ عَلَى التَّحْقِيْقِ** اے د **الله** پاك رښتيني بندئ، **اِبْشِرِیْ بِالْوَلَدِ الْعَتِيْقِ** آزاد ځوئ دِ مبارك شه! **اِسْمُهٗ فِی السَّمَآءِ الصِّدِّيْق** په آسمانونو کښې د ده نوم صِدّيق دے، **وَلِمُحَمَّدٍ صَاحِبٌ وَّرَفِيْق** او دا د **مُحَمَّد** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوست دے.

| | |
|---|---|
| يقيناً مَنبعِ خوفِ خدا صديقِ اکبر ہيں | حقيقي عاشقِ خَيرُ الوَرىٰ صديقِ اکبر ہيں |
| جو يارِ غار محبوبِ خدا صديقِ اکبر ہيں | وہی يارِ مزارِ مصطفٰے صديقِ اکبر ہيں |

**اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت ابوبکر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پخپله دا قِصّه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په **مخکښې** واوروله، چې کله ئې پورا خبره واوروله نو حضرت جبريلِ اَمين عَلَیۡہِ السَّلَام حاضر شو او درې ځله ئې عرض اوکړو: **صَدَقَ اَبُوْ بَكْرٍ** ابوبکر رښتيا اُووئيل. **صَدَقَ اَبُوْ بَكْرٍ** ابوبکر رښتيا اُووئيل. **صَدَقَ اَبُوْ بَكْرٍ**

ابوبڪر رښتيا اُووئيل.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې حکايت نه معلومه شوه چې الله پاك **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته څومره ذهانت او عقل ورکړے وو، څلور کاله څه عمر وي... عام طور په دې عمر کښې ماشومان صحيح خوراک هُم نه شي کولے، بعضې ماشومان په دې عمر کښې فيډر [يعني د شودو بوتل] څښي، د څلورو کالو د ماشوم خپل ذاتي سوچ نه وي، هغه خواو شا ماحول ته ګوري، څه چې ويني هغه ئې په سوچ کښې کښيني او بيا هُم هغه کوي، د هغه د سوچ کولو، د پيژندلو، د څه نتيجے اَخذ کولو قوت کمزورے وي، نو څکه هغه چې خپل مور و پلار، اُستاذان، خويندې ورونړه، د کوڅې محلے ماشومان په څه کولو ويني هم هغه کوي، نه د صحيح نه خبر وي او نه د غلط نه، خو د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ذهانت ته اوګورئ! **الله** پاك هغوئي ته څومره اعلیٰ پيدائشي نوراني طبيعت ورکړے دے چې د خوا و شا ټول ماحول د ڪفر و شِرك نه ډك دے، کوڅو محلو کښې، تر دې چې په خانهٔ کعبه کښې هُم د کاڼړو بُتان کيښودلے شوي وو، پلار ئې پخپله د بُتانو مخې ته اودروي او حڪم ورته کوي چې بچيه! دا ستا خدايان دي، دوئي ته سجده اوکړه. د دې باوُجود هغه خبره چې د هٰغه وخت د غټو غټو سردارانو په عقل کښې نه راتلله، چې خلقو به ورته **اَبُوالْحَڪَمْ** (يعني فيصلے کوونڪے، ډير عقلمند) وئيلو، د هغوئي عقل چې د کوم حقيقت ليدلو نه بے خبره وو، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د څلورو کالو په عمر کښې په هغه خبره پوهيږي، او د

---

[1]... اِرْشادُ السَّاری، کتاب مناقب انصار، باب اسلام ابو بکر صديق، جلد: 7، صفحه: 63۔

هغې خلاف دليل هم ورکوي يعني کانړے راواخلي او د هغوئې د دروغو خُدائے پرې اُوولي او پړمخ ئې راغوزار کړي، او دا ثابتوي چې دا د کانړي بُتان هيڅ کله خُدائے نه شي کيدے، خُدائے **سَمِيُع وبَصِيُر** (يعني اوريدونکے او ليدونکے) وي، دا بُتان نه ويني او نه اوري، خُدائے پاک کلام کولے شي، دا بےساه بُتان خبرې نه شي کولے، خدائے پاك د زړونو په حال هُم خبردار وي، دې بُتانو ته خپل حال هم نه دے معلوم، خدائے پاک د بندګانو حاجتونه پورا کوونکے وي، دا بُتان پخپله د نورو محتاجه دي، خُدائے پاک حافظ و ناصر [يعنې حفاظت کوونکے او مددګار] وي، دا بُتان د خپل ځان حفاظت هم نه شي کولے، دا څنګه خدايان کيدے شي؟ حقيقي خدائے خو هٰغه دے کوم چې اوري، ويني، عالِم دے، قدرت والا دے، د ټولو جهانونو پالونکے دے، هغه له نه خوب ورځي او نه پرکالي، رښتينے خُدا خو **رَبُّ الْعٰلَمِين** دے چې يو شريک نه لري.

## د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اِيمانِ کامِل

**اے عاشقانِ رسول!** معلومه شوه چې حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ماشوم والي نه مُؤمِن وو. اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: دوه صحابه (1) يو حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ (2) دويم مولائے کائنات حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ، دا دواړه په عالَمِ ارواح کښې چې کله ټولو روحونو د الله پاك د ربّ کيدو اقرار کړے وو، د هٰغه وخت نه تر دُنيا کښې پيدا کيدو پورې، دُنيا کښې پيدا کيدو نه تر ځلمي توب پورې، د ځلمي توب نه تر د نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِعلانِ نَبُوَّت پورې، د نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِعلانِ نَبُوَّت نه تر وفاته پورې، او د وفات نه واخله هميشه هميشه پورې

مسلمانان وو، مسلمانان دي، هيڅ كله، يو ساعت، په يو حال كښې دې دواړو ته د كفر و شِرك ناپاكي كله هُم نه ده لګيدلي، او نه به ورته د قيامته پورې اولګي.[1]

## د صِدِّيقِ رَضِیَ اللہ عَنۡہُ اكبر اِيمان د ټولو نه افضل دے

يوه ورځ مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللہ عَنۡہُ د ايمان درجه بيان كړه، اوئې فرمائيل:كه د تَلې په يو چابړي كښې د ابوبكر اِيمان كيښودے شي، په دويم چابړي كښې زما د ټول اُمَّت ايمان كيښودے شي، **لَرَجَحَ بِهِمۡ** د ابوبكر اِيمان به د ټول اُمَّت د اِيمان نه زيات شي.[2]

يو بل حديثِ پاك كښې ئې ارشاد فرمائيلي دي: د حضرت ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللہ عَنۡہُ فضيلت په دې وجه نه دے چې دوئي زيات لمُونځونه كوي، په دې وجه هم نه دے چې دوئي روژے زياتې نيسي، **وَلٰكِنۡ بِشَيۡءٍ وُقِّرَ فِيۡ قَلۡبِهٖ** بلكه د دوئي فضيلت د هٰغه څيز په وجه دے كوم چې د دوئي په زړه كښې ايښودے شوے دے.[3]

امام غزالي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: دا يو راز وو كوم چې د ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللہ عَنۡہُ په زړه كښې ايښودے شوے وو، دا راز هيڅ څوك هم نه شي معلومولے.[4] صُوفياء فرمائي: د دې راز په بركت د حضرت صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہ عَنۡہُ نه داسې بركات ظاهر شوي دي كوم

---

[1] ...فتاوى رضويه، جلد:28، صفحه:458 ملخصاً.

[2] ...شُعَبُ الۡاِيۡمان، باب فِيۡ زِيَادَةِ الۡاِيۡمان وَنُقۡصَانِهٖ، جلد:1، صفحه:69، حديث:36۔

[3] ...بَحۡرُ الفوائِد، باب فِي الۡخُلَّةِ، صفحه:442، حديث:462۔

[4] ...اِحۡيَاءُ الۡعُلُوم، كتاب العلم، جلد:1، صفحه:39۔

چې د بل يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه نه دي ظاهر شوي. [1] مَثَلاً

## صِدِّيقِ اکبر ټول اُمَّت بچ کړو

کله چې نبـي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري طور تشريف يوړلو ، په صحابهٔ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان باندې قيامت راغـے، د هغوئي ژوند مشکل شو، حضرت عُمرِ فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هٰغه عقل مند، ذهين او دور انديش صحابي د چا د رائے موافق به چې قرآن پاك نازليدلو، په غمِ مصطفٰی کښې د هغوئي هوش و حواس هم په ځائے پاتې نه شو، توره ئې اوچته کړي وه او دا اعلان ئې کولو، خبردار! که چا اووئيل چې مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفات شوے دے نو زه به د هغه څټ پريك کړم. [2]

دلته صحابهٔ کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان په غَمِ مصطفٰی کښې ډوب وو، هلته يهود و نصارٰی، کافران او مشرکان خوشحاله وو، اوس هغوئي مسلمانانو ته په دې لالچ کتل او منصوبے ئې جوړولې چې په دې وخت کښې مسلمانان په غم کښې دي، موقع ښه ده، اوس به د مسلمانانو د وړومبے په شان طاقت هُم پاتې نه وي، اوس به دوئي ته ډيره په آسانه شکست ورکړے شي. [3]

په داسې نازکه موقع باندې حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د لرې سوچ او عقلمندئ نه کار واخستلو، اګرچې په غم کښې ډوب وو خو هغوئي په دې نازکه موقع

[1] ...سَبۡع سَنَابِل مترجم، صفحه:62۔

[2] ...مَواهِبُ اللَّدُنِّيه، جلد3، صفحه:389۔

[3] ...سَبۡعَ سَنَابِل مترجم، صفحه:64۔

پوهه شو، خپل جذبات ئې قابو کړل او ټول اُمَّت ته ئې د صبر کولو تاکيد اوکړو او د کافرانو سازشونو نه د بچ کيدلو کامياب کوشش ئې اوکړو. حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما فرمائي: حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ته د خوږ خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِصال خبر ميلاؤ شو نو تشريف ئې راوړو، صحابۀ کرام په غم کښې ډوب وو، حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ صحابۀ کرامو ته خطاب اوکړو، اوئې فرمائيل: په تاسو کښې چې چا د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عبادت کولو او هغوئي ئې خُدائے ګڼړلو نو هغوئي دِ خبر شي چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري پرده اوفرمائيله او چا چې د **الله** پاک عبادت کولو نو بيشکه الله پاك **حَیٌّ لَا یَمُوت** دے، هغه ژوندے دے، هغه له به هيڅ کله د يو ساعت د پاره هُم مرګ نه راځي. بيا هغوئي د سيپاره**4** **سورۂ آلِ عمرٰن** آيت نمبر**144** تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| **وَ مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوۡلٌ ۚ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَاۡئِنۡ مَّاتَ اَوۡ قُتِلَ انۡقَلَبۡتُمۡ عَلٰۤی اَعۡقَابِکُمۡ ؕ** | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او مُحَمَّد خو يو رسول دے د هغوئي نه مخکښې نور رسولان هُم تير شوي دي نو آيا که هغوئي وفات شي يا شهيد شي نو بيرته به ګرځئ په پوندو خپلو؟ |

صحابۀ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان فرمائي: حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ چې دا آيت تلاوت کړو، نو مونږ ته داسې محسوسه شوه لکه مونږ ته چې دا آيت نه وو معلوم، صحابۀ کرامو چې د آيت واريدلو نو هغوئي هُم دا آيت وئيل شروع کړو. حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ چې دا آيت واوريدلو نو د حيرانتيا کيفيت پرې راغے، په زمکه کښيناستلو او د جذب [يعني بے

خودئ] کوم کيفيت چې پرې راغلے وو هغه په ختميدو شو او هغوئي ته يقين اوشو چې واقعي رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه پرده فرمائيلي ده.[1]

ډير لوئ بُزُرگ مِير عبدُالواحد بَلگرامي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه تير شوے دے، اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د هغوئي ډير تعريف کړے دے، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: په داسې نازك وخت کښې اُمَّت ته تسلّي ورکول، د کافرانو منصوبے تباه وبرباد کول، اُمَّت د لويدو نه بچ کول دا د هغه راز برکت وو کوم چې د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په سينه کښې ايښودے شوے وو.[2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د اُمَّت مسائل حل کولو والا

**اُمُّ الْمُؤْمِنِين** حضرت سيدتنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: د رسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصال په وخت کښې چې څومره غمگين حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، که دومره غم په يو غر راپريوتے وے نو غر به هُم ريزه ريزه شوے وے خو زما والد صاحب ثابت قدمي اختيار کړه، په دې حال کښې هم چې صحابهٔ کرامو ته کوم مشکلات پيښ شوي وو، هغه زما والد صاحب په خپل کمال ذهانت سره حل کړل. مَثَلاً (1) وړومبئ مسئله کومه چې صحابهٔ کرامو ته پيښه وه، هغه دا وه چې د **محبوبِ** کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مزار شريف چرته جوړ کړے شي؟ حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د دې حل ورکړو،

[1] ...بخاری، کتابُ المغازی، بابُ مَرَضِ النَّبِیِّ وَوَفَاتِہٖ، صفحہ:1104، حدیث:4454۔
[2] ...سَبعُ سَنَابِل مترجم، صفحہ:65، ملخصاً۔

اوئې فرمائیل: ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي: د الله نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې په کوم ځائے وفات شي، هم هغه ځائے به د هغوئي مزار جوړیږي. لِهٰذا د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وصال د عائشه صِدِّیقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا په کور کښې شوے دے، مزار مبارك به ئې هم دلته جوړیږي. (2) د رَ سُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وراثت په مُعامَله کښې چې مشکل پیښ شو نو حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپلې حافظے په قُوّت د دې حل هُم بیان کړو، اُوئې فرمائیل: ما د آخري رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلے دے: بیشکه زمونږه د انبیاؤ د ډلے میراث نه وي، مونږ چې څه پریږدو هغه صدقه ده.[1]

## د صِدِّیقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وړومبۍ جنګي فیصله

د حضرت ابوبکر صِدِّیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خلیفه جوړیدو سره چې سمدستي کومه لویه مسئله پیښه شوه هغه د حضرت اُسامه بِن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د لښکر د روانۍ وه، خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې دا آخري جنګي فیصله فرمائیلي وه چې حضرت اُسامه بِن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ئې د 700 مجاهدینو لښکر ورکړو او د مُلكِ رُوم سره ئې د جنګ د پاره اولیږلو. دا لښکر لا په لاره کښې وو چې د خوږ نبـي د وصال خبر ور اورسیدو، لښکر بیرته راغے. د حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصال نه پس هغه قبیلے د کومو په زړونو کښې چې ایمان پوخ نه وو یا د مخکښې نه منافقان وو او خپل منافقت ئې پټ کړے وو، هغوئي مرتد شو او د اِیمان نه واوړیدل، په داسې نازك حال کښې صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خدمت کښې

[1]... کَنْزُ العمال، کتابُ الفضائِل، بابِ فضائلِ صحابہ، حصّہ:6، جلد:12، صفحہ:220، حدیث:35595۔

عرض اوکړو: جناب! خلق د اسلام نه اوړي، په داسې صورت کښې د اُسامه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ لښکر لیږل مناسب نه دي، دلته په مدینه منوره کښې د مجاهدینو زیات ضرورت دے. **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوفرمائیل: که سرې خواره ځناور ابوبکر د ښېې نه نیولے په راښکلو راښکلو یوسي نو بیا به هم زه د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لیږلے شوے لښکر هیڅ کله هُم حصار نه کړم. ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اُسامه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ لښکر رُوم ته اولیږلو. دا د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کمال ذهانت وو، د جنګي پالیسئ په اعتبار سره اعلیٰ دُور اندیشي [یعنې لویه عقلمندي] وه. د دې نتیجه دا ښکاره شوه چې هغه لښکر به په کوم ځائے تیریدلو، د هغه ځائے خلقو به سوچ کولو چې: مونږه خو مسلمانان کمزوري ګنړل، چې په داسې حالت کښې هُم د دوئي لښکر د سرحد نه بهر جنګ د پاره روان دے نو یقیناً په مدینه منوره کښې خو به د دې نه هُم غټ لښکر موجود وي! بیا چې کله حضرت اُسامه بِن زید رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ رُومي لښکر ته شکست ورکړو، جنګ ئې اوګټلو او بیرته راغلو نو د اسلام نه اوړیدلي خلق اُویَریدل، د هغوئي په زړونو کښې د اسلام رُعب کښیناستلو او د مرتد کیدو نه ئې توبه اوکړه او رښتیني مسلمانان جوړ شو.[1]

دا د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عقلمندي وه، هغوئي په دې خبره پوهیدل چې لښکر حصارول د خپلې کمزورئ اعلان کول دي، لښکر به ضرور لیږلے کیږي چې خلقو ته معلومه شي چې مسلمانان پرون هم طاقتور وو، او نن هم طاقتور

---

[1]... کَنْزُ العمال، باب اوّل، فی خِلَافَةِ الخلفاء، حصّه:3، جلد:5، صفحه:241، حدیث:14062۔

دي، ځکه چې د مسلمانانو ګران او خوږ د سترګو تور او د زړه ټکور نبـي مکّـي مَدَنـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه پرده کړي ده خو د هغوئي (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د رحمت سورے اوس هم په مسلمانانو باندې قائم دے.

## د مُنکرينِ زکوٰة خلاف جِهاد

شلورمه مسئله کومه چې اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته پيښه شوي وه هغه د منکرينِ زکوٰة مسئله وه. د رَسُولِ اکرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه پرده کولو نه پس بعضو قبيلو د زکوٰة د فرضيت انکار اوکړو، او اوئې وئيل چې: زکوٰة صرف د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارك ژوند کښې فرض وو، اوس زکوٰة ورکول ضروري نه دي، هغوئي زکوٰة اوس ټيکس ګڼړلو.

اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپل ذهانت او ديني بصيرت د هغوئي خلاف د جهاد کولو فيصله اوکړه خو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ته په دې فيصله باندې اِشکال وو، حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرتِ ابوبکر صِدِّيقِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: رسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې ''لَا اِلٰهَ اِلّا الله'' اووئيلو، هغه خپل مال او ځان محفوظ کړو. د دې فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رڼړا کښې ستاسو د زکوٰة انکار کوونکو خلاف جهاد څنګه کيدے شي حالانکه هغوئي ''لَا اِلٰهَ اِلّا الله'' لولي او مني ئې هُم. اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوفرمائيل: خوك چې په لمُونځ او زکوٰة کښې فرق کوي زه به د هغه خلاف لازمي جهاد کووم، هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نورې خبرې هم اوکړې، حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ

فرمائي چې: د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خطاب په اوريدلو زما يقين اوشو چې **الله** پاك په دې مُعامَله کښې د هغوئي سينه خلاصه کړې [يعني روښانه کړې] ده.[1]

آخر **اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د هغوئي خلاف جهاد اوکړو. حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: په شروع کښې مونږه دا فيصله ناخوښه ګڼړله، او زمونږه خيال وو چې دا فيصله صحيح نه ده، د زکوٰة انکار کوونکو خلاف جهاد نه دے پکار، خو چې کله د دې نتيجه ښکاره شوه، د زکوٰة انکار کوونکو توبه اوکړه او د شرعي قاعدے مطابق ئې زکوٰة ورکول شروع کړو نو مونږه د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ذهانت، عقلمندئ او ديني بصيرت ستائنه اوکړه. يقيناً که حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دا فيصله نه وے کړے نو تر قيامته پورې به د اسلام يو بنيادي رُکن زکوٰة ختم شوے وے او خلق به د زکوٰة مُنکِر شوے وے. حضرت ابو رَجاء رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: ما اوليدل چې حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هغه وخت د **اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ تندے مبارك ښکل کړو او اوئې فرمائيل: **لَوۡ لَا اَنۡتَ لَهَلَكۡنَا** اے ابوبکر! که تاسو نه وے نو مونږه به هلاك شوي وے.[2]

## خليفه مقرر کولو کښې ذهانت او عقلمندي

**اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ چې کومه آخري فيصله کړې وه هغه د خپل ځان نه پس د خليفه مقرر کولو فيصله وه. د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ژوند

---

[1]... مُسْلِم، کتابُ الْاِيۡمان، صفحه:33، حديث:32۔

[2]... رِيَاضُ النَّضۡرَة، صفحه:127، حديث:296 297۔

آخري ساعتونه وو، د صحابهٔ کرامو په موجودګئ کښې هغوئي حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته اوفرمائیل: اولیکه! ''اوس ابوبکر د دُنیا نه روان دے او د آخرت وړومبي منزل ته نِزدے دے، دا د ابوبکر آخري فیصله ده. زه په تاسو باندې عُمَر بِن خَطّاب (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) خلیفه جوړووم، د دوئي خبره اورئ او د دوئي پیروي کوئ! که دوئي عدل و انصاف کوي نو زه دوئي هُم دغسې ګنړم، که واوړي او عدل و انصاف اونکړي نو د هر کس د پاره هغه څه دي، څه به چې هغه ګټي. [یعني بیا په تاسو باندې لازم دي چې د اسلام مطابق فیصله اوکړئ]''[1]

حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: په دُنیا کښې درې کسان ډیر ذهین او عقلمند تیر شوي دي، په هغوئي کښې یو اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے، هغوئي په خپل ذهانت او عقلمندئ سره حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خلیفه جوړ کړو.[2]

د هغوئي د دې فیصلے نتیجه ټولې دُنیا اولیدله، ټولو ته معلومه ده، کافِر هُم دا خبره مني چې د حضرت عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په شان خلیفه د هغوئي نه پس بل نه دے راغلے، هغوئي د **الله** پاک په عطا او د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکتونو په ټوله دُنیا کښې اسلام خور کړو، اسلام ئې په ټولو دینونو غالِب کړو، مسلمانان ئې د ترقئ اوچتې درجے ته اورسَوَل، غټ غټ سُپر پاور ئې مغلوبه کړل، کافران ئې پړمخ غوزار

---

[1]...کَنْزُ العمال، باب اوّل، خِلَافَةُ الخلفاء، حصّه:5، جلد:3، صفحه:269، حدیث:14171۔

[2]...تفسیر طَبَری، پاره:12، سورهٔ یوسف، تحت الآیة:21، جلد:7، صفحه:173، حدیث:18959۔

كړل او په ټوله دُنيا كښې ئې كلِمَهٔ حق خوره كړه.

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو اوليدل چې! **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن،** حضرت صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ډيره ذهين او عقلمند وو. مونږ له هم د عقلمندئ او ذهانت نه كار اخستل پكار دي.

## د "عقلمند مُومِن ډلور فضائل"

(1) حضرت **وَهْب** بِن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاك ډيرو انبيائے كرامو ته وحي فرمائيلي ده چې: شيطان سل جاهلان دوكه كوي، د هغوئي په ښټ سور شي او چرته چې ئې غواړي بوځي ئې او ګرځوي ئې خو د يو عقلمند مسلمان دوكه كول د شيطان د پاره سخت مشكل دي. (2) نور فرمائي: غر د خپل ځائے نه لرې كول، ريزه ريزه كول د شيطان د پاره آسان دي خو عقلمند مُومِن دوكه كول ورته ډير مشكل دي. شيطان عقلمند مسلمان له راځي، په زرګاؤ حِيلو بهانو ئې دوكه كول غواړي، د نيكې لارې نه د لرې كولو كوشش ئې كوي خو نه كاميابيږي، ستړے شي او وائي: هائے خرابي! په ما څه اوشو؟ زه د ده د دوكه كولو طاقت نه لرم! (3) يو بُزُرګ فرمائي: دوه كسان چې يو شان عمل اوكړي مَثَلاً دواړه لمُونځونه اوكړي، صدقه وركړي، د نيكئ دعوت عام كړي، تِلاوَت اوكړي، په دې دواړو كښې چې يو زيات عقلمند وي نو د دې دواړو په اعمالو كښې د مشرق او مغرب فرق وي.[1] (4) خوږ آقا مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حِكمَت (يعني عقلمندي او هوښيارتيا) د عِزَّت والا په عِزَّت كښې اضافه

[1]...اَخْبَارُ الْاَذْكِيَاء، باب اوّل، صفحه:33۔

کوي او غلام د بادشاهانو درجے ته رسوي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** عقلمندي، ذهانت، حکمت او هوښيارتيا د **الله** پاك عطا ده. **الله** پاك چې ئې چا له غواړي، ځومره غواړي دا نِعمَت ورکوي. البته مختلف اسباب اختيارول په عقل، ذهانت، حکمت او دانائي کښې د اضافے سبب جوړيدے شي.

## د حکمت او دانائۍ حاصلولو څلور طريقے

**(1) د عقل زياتولو اوله طريقه:** ګناه پريږدئ او د نيکۍ کار کوئ! زمونږ خوږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **اِبْنَ آدَم ! اَطِعْ رَبَّکَ تُسَمّٰى عَاقِلاً** اے انسانه! د الله پاك اطاعت کوه! تا ته به عقلمند وئيلے کيږي. **وَلَا تُعْصِ رَبَّکَ فَتُسَمّٰى جَاهِلاً**، او د الله نافرماني مه کوه! کنې ستا نوم به "جاهل" شي.[2] خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابودرداء رَضِیَ اللهُ عَنْه ته اُوفرمائيل: اے **عُوَيْمِر** (**عُوَيْمِر** د حضرت ابودرداء رَضِیَ اللهُ عَنْه نوم دے نو اوئې فرمائيل اے **عُوَيْمِر!**) خپل عقل زيات کړه! تا ته به د الله زيات قُرب نصيب شي. عرض ئې اوکړو: حُضُور! زه عقل څنګه زيات کړم؟ اوئې فرمائيل: د **الله** پاك د ناراضه کوونکو کارونو نه ځان ساته! څه چې ئې په تا فرض کړي دي هغه ادا کوه! **عقلمند به** شې. بيا نفلي نيکۍ کوه کوه! ستا په عقل کښې به مسلسل اضافه کيږي، ته به مسلسل

---

[1]… کَنْزُ العمال، کِتَابُ العلم، باب اَوَّل، حصّه:10، جلد:5، صفحه:63، حديث:28738۔

[2]… مَطَالب العَالِيَه، باب فضلِ الوَرَعَ والتقوىٰ، جلد:13، صفحه:719، حديث:3308۔

**الله** ته نِزدې کيږے او په دُنيا کښې به تا ته غلبه او عِزَّت حاصليږي.[1]

**(2) د عقل زياتولو دويمه طريقه:** د خپل ځان ښه ګڼړلو او خپله رائے ښه ګڼړلو نه بچ اوسئ، داسې نه چې بس زه د ټولو نه ښه يم، زما رائے د ټولو نه اعلٰى ده، زما مشوره کامِل او اکمَل ده، زما نه ښه سوچ خو هډو څوك کولے نه شي. داسې ذِهن مه جوړوئ! عاجزي کوئ! حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځوئ ته نصيحت کوي، فرمائي: د سړي عقل تر هغې پورې نه مکمل کيږي تر څو چې په هغه کښې لس عادتونه نه وي راغلي، بيا ئې لسم عادت بيان کړو: د ټولو نه اعلٰى عادت دا دے چې بنده د ټولې دُنيا خلق د خپل ځان نه ښه او ځان د ټولو نه بد ګڼړي.[2]

د الله پاك آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: هر انسان سره حکمت و دانائي وي او د هغه دا حکمت د يوې فرښتے په لاس کښې دے، چې کله بنده عاجزي کوي، نو فرښتے ته حکم اوشي چې: د ده حکمت زيات کړه! چې کله انسان تَکَبُّر کوي نو حکم اوشي: د ده حکمت کم کړه![3]

**اے عاشقانِ رسول!** عاجزئ کوئ! خپل ځان ښه مه ګڼړئ! ځان ښه ګڼړل ډير هوښيار سړے هم ړوند کړي. فرعون ته اوګورئ! څومره ماهر سياستدان وو، هغه بدبخته د خدائي دعوٰى اوکړه او قوم به ورته سجده کوله، حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلام ورته د نيکئ دعوت ورکړو، معجزات ئې ورته اوښودل، خو هغه بدبخته وو، او د خپل عقل نه

---

[1]...نَوَادِرُ الْاُصُول، جلد:2، صفحه:63۔

[2]...اَخْبَارُ الاَذْكِيَاء، باب رابع، صفحه:41۔

[3]...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتابُ الْاَدَب، بابُ التَّواضُع، جلد:8، صفحه:102، حديث:13096۔

ئې کار وانخستو، د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلام خبره ئې اُونه منله، اِيمان ئې رانوړو، نافرماني ئې اوکړه، **الله** پاک په قرآنِ مجيد کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَ صُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ؕ (پاره:24، سورة المؤمن، آيت:37) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د فرعون په نظر کښې د هغه بد کار ښه ښکاره کړے شو. |

فرعون خپل ځان ښه اوګڼړو، او سرکشي ئې اوکړه نو **الله** پاك په درياب کښې غرق کړو، نه ئې حکومت پاتې شو او نه ئې د خدائي دعوٰی پکار راغله، په دُنيا کښې هم ذليله شو او آخرت ئې هم تباه و برباد شو او د قيامته پورې د عبرت نښه جوړ شو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** عبرت حاصل کړئ! ځان د ښه ګڼړلو نه اوساتئ چې زه ښه يم، اِنْ شَآءَاللّٰه په زړه کښې به مو عاجزي پيدا شي، د مشورے کولو ذِهن به مو جوړ شي، د خپلې رائے ښه ګڼړلو په ځائے به نور د غوروفِکر ضرورت محسوس کړئ او تجربه به مو زياته شي، په عقلمندئ او ذهانت کښې به مو اضافه اوشي.

(3) **<u>د عقل زياتولو دريمه طريقه:</u>** د غوروفِکر عادت جوړ کړئ! يو کار هُم بے سوچه مه کوئ بلکه ښه غوروفِکر کوئ، که پرې نه پوهيږئ نو چا سره مشوره اوکړئ. حضرت اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به ډير غوروفِکر کولو، اکثر به په غوروفِکر کښې ډوب وو، چا ترينه تپوس اوکړو: جناب! تاسو دومره غوروفِکر ولے کوئ؟ اوئې فرمائيل: **اَلْفِكْرُ مُخُّ الْعَقْلِ** غوروفِکر کول د عقل مغز دے. د حضرت طاؤس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه روايت دے، يوه ورځ د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلام حَوَّاريانو د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلام نه

تپوس اوکړو: اے روحُ الله! آيا په دُنيا کښې داسې څوك شته دے چې هغه په سيرت کښې ستاسو په شان وي؟ اوئې فرمائيل: آو! په چا کښې چې درې صِفَتونه وي هغه په سيرت کښې زما په شان دے: (1) **مَنۡ كَانَ مَنۡطَقُهٗ ذِكۡراً** چې د هغه وينا ذِکر وي، (2) **وَصَمۡتُهٗ فِكۡراً** چې خاموشه وي نو غوروفِکر کوي، (3) **وَنَظۡرُهٗ عِبۡرَةً** او د هغه په نظر کښې عِبرت وي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا درې واړه صِفَتونه عقل زياتولو والا دي. لکه **وړومبے صفت:** چې د هغه وينا د **الله** پاک ذِکر وي، **دويم صفت:** چې خاموشه وي نو غور و فکر کوي، اوَّل خو خاموشي پخپله حکمت دے، د **الله** پاك خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: خاموشي حکمت دے خو خاموشه اوسيدونکي ډير کم دي.[2] بيا په خاموشئ کښې د آخرت په معاملاتو کښې غو ر و فِکر کول، د خپل ايمان د حفاظت فکر کول، د الله پاک د فرمانبردارئ کولو او د نافرمانئ نه د بچ کيدلو فکر کول وغيره. **دريم صفت:** او دُنيا ته د عبرت په نظر کتل چې دا هر څه به فنا شي، بس ما سره به صرف خپل اعمال ځي، ځکه چې څومره بادشاهان په دُنيا تير شوي دي خو هغوئي ځان سره هيڅ دُنياوي مال و دولت نه دے وړے.

(4) **<u>د عقل زياتولو څلورمه طريقه</u>:** د تجربه کارو، عقلمندو او هوښيارانو خلقو صُحبَت اختيار کړئ. اِمامُ الانبياء، سَيِّدُ المُرسلين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چې کله

---

[1] ...اِحۡيَاۤءُ العُلوم، کتَابُ التفکر، جلد:4، صفحه:514۔

[2] ...کَنۡزُ العمال، کِتَابُ الاَخۡلَاق، حصه:3، جلد:2، صفحه:141، حديث:6877۔

داسې بنده اووينئ چا ته چې د دُنيا نه بے رغبتي او د کم وئيلو نِعمَت ورکړے شوے ئې نو د هغه قُرب [يعني نزديکت] حاصل کړئ! بيشکه داسې بنده ته حکمت و دانائي ورکولے کيږي.[1] په يو بل حديثِ پاك کښې فرمائي: زيرے دے د هغه د پاره څوک چې د فَقِيه (يعنې په دين کښې پوهه لرونکي) او حکيم [يعني حِکمت والا يعني عقلمند] او هوښيار سره ميلاويږي، او د هغه خواته ډير ځي راځي.[2]

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "مدني مُذاکره"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دورِ حاضر عظيم علمي و روحاني شخصيت، چا ته چې **الله** پاك د دُنيا نه بے رغبتي او د کم وئيلو نِعمَت هم عطا کړے دے، په علمِ دين کښې ئې پوهه هم ورکړي ده، عقل و دانائي او حکمت ئې هم ورعطا کړے دے، شيخِ طريقت، رهبَرِ شريعت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَاليه په دې دور کښې د الله پاك لوئ نِعمَت دے. د دِين و دُنيا بهتري حاصلولو، په زړه کښې د عشقِ رسول شمع روښانه کولو، گناهونو نه د بچ کيدلو، د نيکو کولو، محتاط جوړيدلو او د عقل او دانائي زياتولو د پاره د اَمِيرِ اَهلِسُنَّت دامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَاليه د اعلىٰ تجرباتو نه فائده اوچته کړئ! **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** هغوئي هره هفته د اتوار په شپه په مدني چينل باندې براهِ راست (Live) مدني مذاکره فرمائي، د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د ديني او دُنياوي مشکلاتو د حل د پاره د هغوئي په خدمت کښې

---

[1] ...اِبْنِ مَاجَه، کِتَابُ الزُّہْد، صفحه:667، حديث:4101۔

[2] ...جَامِع صغير، صفحه:327، حديث:5299۔

سوالونه کوي او هغوئي د علم و حکمت نه ډك جوابونه ورکوي. تاسو هم هره هفته بے ناغه په "**مدني مذاکره**" کښې شريك کيږئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه ښځپله به د دې ديني کار برکتونه اووينئ.

## هره ورځ د مدني مُذاکره اوريدلو برکت

د حيدر آباد (سندھ) د يو اسلامي ورور بيان دے: زه د اَميرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ مريد خو د وړوکوالي نه ووم خو شيطان په دُنيا کښې نښلولے ووم، زما د ژوند قيمتي ورځې په غفلت کښې تيريدلې چې خوش قِسمتئ سره زما د يو **مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي** سره ملاقات اوشو، هغوئي ما ته اووئيل: څوک چې د اَميرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ بيانونه اوري، اميرِ اَهلِسُنَّت د هغه نه خوشحاليږي. دې خبرو زما په زړه کښې د خپل پير صاحب سره پټ محبت رابيدار کړو. ما د مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنه نه 50 مدني مذاکرو باندې مشتمله وي سي ډي واخسته او هره ورځ به مې د يوې مدني مذاکرے اوريدلو سعادت حاصلولو. د اَميرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ د اثر نه ډکو خبرو په برکت مې د ګناهونو نه نفرت او نيکو سره محبت زيات شو، ما صرف يو څو مدني مذاکرے اوريدلې وے چې زما حُليه، کردار او د ژوند تيرولو په طريقو کښې تبديلي راتلل شروع شو. ما ته په سنتو باندې د عمل کولو جذبه نصيب شوه او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه د نيکئ د دعوت او د سُنتو عام کولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي ديني کارونو کښې هم زړه لګيدل شروع شو. الغرض د مدني مذاکرو په ذريعه زما داسې تربيت اوشو کوم چې په

زما د ژوند په 26 کالو کښې نه وو شوے.[1]

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!		صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[2]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا		جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

**سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا		جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا**

## شُکر کول سُنَّت دي

**دوه فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** د بنده په هره لُقمه [هره نَوَرئ] او هر ګوټ باندې د **الله** کريم شُکر کول **الله** پاك ته خوښ دي.[3] **(2)** خپلې ژبې په ذِکر او زړونه په شُکر کښې مشغول ساتئ.[4]

**اے عاشقانِ رسول!** شُکر کول سُنَّت دي، ❁ خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په کثرت سره شُکر ادا کولو، ❁ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هم ناشُکري نه ده کړې، ❁ شُکر

---

[1]...اجنبی کا تحفه، صفحه:28، خُلاصةً.

[2]... ابنِ عساکر ج ص

[3]...مُسْلِم، کتابُ الذِّکر و الدُّعَا، صفحه:1122، حديث:6932۔

[4]...شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: محبةُ الله، جلد:1، صفحه:419، حديث:590، ملتقطاً۔

اعلٰی عبادت دے، ❁ شُکر کولو سره په نِعمَت کښې اضافه کيږي، ❁ "بنده ته چې نِعمَت ميلاؤ شي او بنده په هغې شُکر ادا کړي نو د دې په برکت به اِنْ شَآءَالله بنده د عذاب نه محفوظه اوسي."[1]

## د شُکر کولو طريقه

❁ حضرت ابوبکر شبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: نِعمَت ته د کتلو په ځائے نِعمَت ورکوونکي [يعني الله] باندې نظر ساتل شُکر دے،[2] مَثَلاً: که تاسو ته تنخواه ميلاؤ شوه، دا هم نِعمَت دے، که په امتحان کښې پاس شئ، ځوئ يا لور مو پيدا شي، د لمُونځ توفيق درکړے شي، د روژے نيولو سعادت درنصيب شي، صدقه مو ورکړه وغيره که د هر قسمه نِعمَت درته ميلاؤ شي نو بيا هغه نِعمَت ته مه ګورئ بلکه دا سوچ کوئ چې: دا نعمتونه ما ته الله پاك راکړي دي، د نِعمَت نِسبت خپل ځان طرف ته نه، بلکه د الله پاك طرف ته کوئ، ❁ امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نِعمَت سره د نيکئ اراده کول د زړه شُکر دے. په ژبه د الله پاك حَمْد و ثناء د ژبې شُکر دے. د الله پاك ورکړے شوے نِعمت په عبادت کښې خرچ کول، په ګناه کښې د استعمالولو نه بچ کول د باقي اندامونو شُکر دے.[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...صِرَاطُ الجنان، جلد:4، صفحه:406، خُلاصةً۔

[2] ...اِحْيَاءُ العلوم، کتَابُ الصَبْر و الشکر، جلد:4، صفحه:103، خلاصةً۔

[3] ...اِحْيَاءُ العلوم، کتَابُ الصَبْر و الشکر، جلد:4، صفحه:103، خلاصةً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1. . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۂ كرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥